عمومي کتنه

نتخابونه

ګامونه

ګټې

چک لستونه

لغاتونه

# د فراغت تولکیټ

## د خپل عالي ښوونځي کلونو
## د پلان کولو لپاره معلومات

Adapted from the TEA Graduation Toolkit
https://tea.texas.gov/communications/grad_toolkit/booklet.pdf

# د فاونډېشن عالي ښونځي برنامه

د "فاونډېشن عالي ښونځی برنامه" هغه برنامه ده چې زده کونکو ته اجازه ورکوي چې خپلې ګټې تعقیب کړي. دا د هغه زده کونکو لپاره د فراغت لومړنی پروګرام دی چې د 2014-2015 کال ښوونځي یا له دې وروسته په ښوونځي کې داخل شوی.

## د فاونډېشن عالي ښوونځي برنامه تر دریو برخو پورې اړه لري:

- د 22 - کریډیټ فاؤنډیشن برنامه چې د ټیکساس عالي ښوونځي د ډیپلوم اساسي برنامه ده،
- پنځه تاییدي* اختیارونه چې زده کونکو ته اجازه ورکوي چې د کورسونو اړوند لړۍ باندي تمرکز وکړي،
- او د لوړې کارکردګۍ کټګورۍ چې د لاسته راوړني توپیر لرونکي کچې په نوم یادیږي.

| د فاونډیشن اړتیاوو (22 کریډیټونه) کې شامل دي: | |
|---|---|
| **انګلش (4 کریډېټه)** | انګلیسي • انګلیسي II • انګلیسي III • انګلیسي IV (د کالج تیاری، په رامپ، دوه ګونی کریډیټ، یا پرمختللي ځای پشمول) |
| **ریاضیات (3 کریډېټه)** | الجبر I •هندسه یا جیومتري • د ریاضي عالی کورس |
| **ساینس (3 کریډېټه)** | بیالوژي• د فزیکي ساینس کورس • د ساینس عالی کورس |
| **ټولنیز زده کړې (3 کریډېټه)** | د متحده ایالاتو تاریخ • د متحده ایالاتو دولت (یو- نیم کریډیټ) • اقتصاد (یو- نیم کریډیټ) • نړیوال تاریخ / د نړی جغرافیه / د AP انسان جغرافیه |
| **د انګلیسي ژبې څخه پرته نورې ژبې (2 کریډېټه)** | 2 کریډېټه په ورته ژبې کې. |
| **فزیکي زده کړې** (1 کریډیټ)، **فاین هنرونه** (1 کریډیټ)، **وینا** (0.5 کریډیټ)، **روغتیا** (0.5 کریډیټ)، **اختیاري** (4 کریډیټ) | |

## ښنست + تاییدونه

د تاییداتو سره ټول کریډیډه: **26** په یو ترتیبي سلسله کې څلور کریډیټونه په شمول د، ساینس، ټیکنالوژي، انجینرۍ، او ریاضي (STEM)، سوداګرۍ او صنعت عامه خدمت هنرونه او حقوق څو اړخیزه ډسپلینري زده کړې.

## وده یا پرمختګونه

سربیره پردي، یو زده کونکی ممکن د غوره فعالیت لپاره د لاسته راوړلو توپیر لرونکي کچه لاسته راوړي. دا کچه باید ترلاسه کړئ ترڅو د ټیکساس په عامه پوهنتون کې د 10 سلنه غوره اتوماتیک داخلي قانون له مخې داخل شئ.

## د لاسته راوړني ځانګړې کچه

- د فاونډیشن برنامې اړتیاوې
- 4 کرېډېټونه په ریاضي کې په شمول د الجبر
- 4 کرېډېټونه په ساینس کې
- لږ تر لږه 1 انډورسمنټ یا تایدي

* یو زده کونکی چې نهم ټولګي ته ننوځي هغه تاییدۍ چې د تعقیب کولو پلان یې لري باید په ګوته کړي. یو زده کونکی ممکن په هر وخت کې خپله تاییدی بدله یا اضافه کړي. یو زده کونکی کولی شي د تایید پرته فارغ شي که چیرې د هغه یا هغې د دویم کال یا سوفومور کال وروسته، د زده کونکي والدین یوه فورمه چې زده کوونکی ته د تاییدۍ اړتیا د محوه کولو اجازه ورکوي لاسلیک کړي.



Back to Top

# انډورسمنټس

## زده کونکي د 5 انډورسمنټس یا تاییدونو ځایونو څخه انتخابولی شي

**د کورس تفصیلاتو لپاره کټلاګ وګورئ.**

**http://bit.ly/NISDCatalog19**

### تکنالوجي، انجینري، او ریاضیات (STEM)

- د CTE کورسونه چې د STEM اړوند دي
- ریاضیات
- کمپیوټر ساینس
- ساینس

### سوداګری صنعت

- کرنه، خواړه او طبیعي سرچیني
- معماري او ساختماني
- هنرونه، آډیو / ویډیو ټیکنالوجي
- سوداګري، اداره او مدیریت
- پرمختللي خیروني ژورنالیزم
- بچټونه
- اقتصاد
- میلمه پالنه او سیاحت
- معلوماتي تکنالوجي
- مارکټنګ
- تولید یا منوفکچرنګ
- په عامه کې خبرې کول
- نوی کیدونکی انرژي
- تکنالوجي کاریالونه

### عامه خدمت

- سمون او امنیت
- زده کړې او روزنه
- دولت او عامه مدیریت
- روغتیايي ساینس
- بشري ساینس
- د جونیرو ریزرو افسر روزني کورپس (JROTC)
- قانون
- عامه خوندیتوب

### هنرونه او بشری زده کړې

- د آمریکیا د آشارو ژبه
- انګلیسي انتخابي (د پرمختللي خیروني ژورنالیزم یا بحث (ډیبیټ) څخه پرته
- ښکلي هنرونه (موزیک، تیاتر، هنر او نڅا)
- ژبه د انګلیسي څخه پرته (LOTE) - په دوه ژبو کې 2 لیولونه
- د انګلیسي پرته نورې ژبې (LOTE) - په ورته ژبه 4 لیولونه
- تولنیز زده کړې

### څو اړخیزې ډسپلنري زده کړې

- 4 پرمختللي کورسونه د نورو تاییدي سیمو څخه
- 4 د هر فاونډیشن برخي کې 2 کریډیټونه، په شمول د انګلیسي IV او کیمیا او / یا فزیک
- په پرمختللي پلیسمینټ کې 4 کریډیټونه، یا دوه ګوني کریډیټ د انګلیسي څخه، ریاضي، ساینس، تولنیزې زده کړې، LOTE، یا فاین هنرونو څخه غوره شوي



Back to Top

ګامونه

# د لاسته راوړني ځانګړې کچه

26 کرېډيټونه
الجبرا 2 اړين
د ټيکساس عامه پوهنتونونو کې د 10 % غوره زده
کونوکو اتوميټک داخلې لپاره وړ

## 22 کرېډيټونه د فاونډيشن پروګرام لپاره

## د 1 انډورسمنټ پا تايد اړتياوې
(په شمول په رياضياتو او ساينس کې 4 کرېډيټونه)



سوداګري
او صنعت



STEM



ځو اړخيزې ډسپلنرې
زده کړې



هرونه او بشريتونه



عامه خدمتونه



Back to Top

ګټې

# د لاسته راوړنې ځانګړې کچه

## ولې دا اړینه ده – ګټې

د لاسته راوړنې ځانګړې کچه ستاسو لپاره د عالي ښوونځي څخه وروسته د زده کړې او کارموندنې فرصتونو نړۍ پرانیزي. د لاسته راوړنې ټاکل شوې کچه په لاندې ډول ده:

- تاسو ته اجازه درکوي د ټیکساس په ټو دولتي پوهنتون کې د غوره 10 % اتوماتیک داخلي شراکت لپاره سیالي وکړئ؛
- تاسو ته د هغو کسانو په مینځ کې لومړۍ ځای درکوي چې د ټیکساس مرستې لپاره* په لیکه کې دي ترڅو د پوهنتون ښوونې او فیسونو تادیه کې مرسته درسره وشي؛ او
- ډاډ درکوي چې تاسو په ډېر غوره کالجونو او پوهنتونونو کې ترټولو وړ غوښتونکي یاست.

* باید له مالي پلوه وړ وی

## دا څه معنی لري

د لاسته راوړنې ځانګړې کچه زیاته ریاضي او زیات ساینس ته اړتیا لري له فاونډیشن عالي ښونځي څخه. د لاسته راوړنې ځانګړې کچه لاندې نکتو ته اړتیا لري:

- ټول 4 کریډیټونه په ریاضي کې، په شمول د الجبر 2
- ټول 4 کرېډیټونه په ساینس کې؛ او
- ستاسې د خوښې ځای کې د انډورسمنټ یا تاید بشپړتیا له بریالیتوب سره.

## ګټې

- د ګټو په ساحه کې د انډورسمنټ یا د تایید ترلاسه کولو فرصت
- د کالج او پوهنتون ډیر اختیارونه
- د مالي مرستې ډیر اختیارونه
- په ټولنیزو / تخنیکي کالجونو او پوهنتونونو کې د کالج کچې کورس لپاره غوره چمتووالی
- ستاسو د زده کړې غوره شوې ساحې پورې اړوند ټولګیو کې د فوري نوم لیکنې فرصت.
- قوي بنسټ په بریالیتوب سره د صنعت کاري ځواک یا کالج بشپړولو لپاره.



Back to Top

# د فراغت پروګرام

## 9 م/ 10 م ټولګی

- ❑ **ځارنه:** د عالي ښوونځي کریډیټونه ځارنه او ډاډ ترلاسه کول ترڅو د آخري کال ترپایه ټولې سیمه ایزې او دولتي اړتیاوې پوره کړي.
- ❑ **واخلئ:** دوه ګونی نوم لیکنه یا د ځای په ځای کولو پرمختللي کورسونه کې برخه واخلئ، که امکان ولري، د کالج کریډیټ ترلاسه کولو لپاره پداسې حال کې چې لاهم په عالي ښونځي کې وي.
- ❑ **ساتل:** د بورسونو او کالج غوښتنلیکونو لپاره د جایزو، ویاړونو او غیر نصابي فعالیتونو لیست ساتل.
- ❑ **څېړنه:** د کالجونه یا پوهنتونونه چې تاسو پکې د داخلې اختسلوعلاقه لرئ، د داخلې او غوښتنلیک اړتیاوې او مهال ویش وګورئ او څیرړنه وکړئ.
- ❑ **لټول:** ګټې او د کیریر ورځ فرصتونو څخه ګټه اخیستل.
- ❑ **ګډون کول:** د کالج شپې چې ستاسو ښونځي یې کوربه توب کوي، د ښوونځي د استازو سره د مالي مرستې د ډولونو په اړه خبرې وکړئ.
- ❑ **برخه اخستل:** د تمرین لپاره ستاسو په عالي ښونځي یا کالج کالونو کې د SAT / ملي تحصیلي بورسونو لومړني ازمویني کې برخه واخلئ. په خپل لومړي کال کې، د ملي میرټ بورسونو سیالۍ وړتیا لپاره PSAT واخلئ. هغه زده کونکي چې د PSAT یا ACT پلان لری د SAT یا ACT لوړې نمرې اخلي د هغه چا په پرتله چې دا پلان نه نلري.

## 11 م/ 12 م ټولګی

- ❑ **واخلئ:** دوه ګونی نوم لیکنه یا د ځای په ځای کولو پرمختللي کورسونه کې برخه واخلئ، که امکان ولري، د کالج کریډیټ ترلاسه کولو لپاره پداسې حال کې چې لاهم په عالي ښونځي کې یاست.
- ❑ **وګورئ:** د شته سکالرشپونو په اړه معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د خپل مشاور دفتر یا د خپل کالج کیریر مرکز سره وګروئ دا ډاډ ترلاسه کړئ چې ژر تر ژره نوم لیکنه وکړئ د امکان تر حده د ډیری بورسونو لپاره ځان محلي سکالرشپ پورې محدود نه کړئ.
- ❑ **په نظر کې ونیسئ:** د SAT / ACT چمتوالی ټولګیو لکه لوی سیمینار نیول په نظر کې ونیسئ. د 11م ټول زده کونکي به د ښوونځي ورځې په جریان کې د SAT مدیریت کې برخه واخلي. مشران هڅول کیږي چې ګډون وکړي او د ACT او / یا SAT ازمویني واخلي ترڅو خپلو نمرو ته وده ورکړي.
- ❑ **غوښتنه وکړئ:** د خپل وروستي یا دویم کال د مني په جریان کې کالج ته اپلای یا درخواست وکړئ.
- ❑ **ډک کړئ:** د خپل دوهم یا وروستي کال په پسرلي کې FFSA (د فدرالي زده کونکي مرستې لپاره وړیا غوښتنلیک) ډک کړئ.

د کالج او کیریر لیرډ کتابچه ته لاسرسی دلته وکړئ:
http://bit.ly/NISDCollegeandCareer

د NISD فراغت ویب پاڼي ته دلته لاس رسي وکړئ:
https://nisd.net/schools/graduation

# د فراغت پروګرام

**د کورس کریډیټ:** د اندازه کولو یو واحد چې د یو سیمستر کورس بریالي بشپړیدو لپاره ټاکل شوی. د یوه سمستر کورس بشپړول د زده کونکي لپاره نیمه کریډیټ لاسته راوړي.

**لاسته راوړنې ځانګړې کچه:** د فاؤنډیشن د عالي ښوونځي برنامې څخه لوړې د زده کړې لاسته راوړنې لوړې کچې. دا د کورس ټولو 26 کریډیټونو ته اړتیا لري، پشمول د الجبرا II، څلورم ساینس کریډیټ او انډورسمنټ یا تایید. یو زده کونکی باید دا ترلاسه کړي ترڅو د ټکساس دولتي پوهنتون کې د غوره لس فیصده اتوماتیک داخلې لپاره وړ وګرځي.

**انډورسمنت یا تاییدات:** د ځانګړي زده کړې ساحې.دا ساحې په لاندې ډول دي:

- ساینس، ټیکنالوجي، انجینري، ریاضیات (STEM)
- سوداګري او صنعت
- هنرونه او بشریات
- عامه خدمت
- څو اړخیزه ډسپلنري زده کړې

**د کورس پای یا EOC:** د کورس د پای ازموینې د دولت لازمي ازموینې دي چې د کورس د وروستیو اونیو په جریان کې ورکول کیږي. د فراغت کورس اړتیاو پوره کولو سربیره، زده کونکي مکلف دی چې د کورس په پای کې په پنځه آزموینې کې بریالي شي ترڅو د ټیکساس عامه ښوونځي څخه ډیپلوم ترلاسه کړي. دا پنځه امتحانونه هغه وخت ورکول کیږي کله چې یو زده کونکی د انګلیسي I او II، بیولوژي، الجبرا I، او د متحده ایالاتو تاریخ کورسونه واخلي.

**د فاونډیشن عالي ښوونځي پروګرام:** د ټیکساس د عامه ښوونځي زده کونکو لپاره د 22 – اساسي کریډیټونو فارغوني پروګرام.

**د صنعت کاري ځواک اعتبار:** د یو دولت، ملی یا نړیوال له خوا پیژندل شوی سند چې د پوهې او مهارتونو د هغه معیارونو سره برابر وي چې د یوې اتحادیې یا دولتي اداري لخوا ټاکل شوی او د یو ځانګړي مسلک یا کسب نمایندګي کوي او سوداګری یا صنعت ورته په یو خاص ارزښت قایل وی. مثالونو کې د تصدیق شوي نرسی مرستې (CNA) یا د موټرو خدمت غوره والي (ASE) د موټرو صنعت کې سند.

**د فعالیت تاییدات:** زده کونکي ممکن په دغه ډیپلوم یو اضافي تصدیق د دوه ګوني کریډیټ کورسونو او دوه ژبو او ژبپوهنې په برخو کې د غوره فعالیت له امله ترلاسه کړي؛ د PSAT، د ACT پلان، SAT، یا ACT ازموینې؛ یا په ملي کچه یا په نړیواله کچه پیژندل شوې سند په سوداګری یا صنعت کې ترلاسه کول.



Back to Top